مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنګروال

۲۰۲۶/۱۰/۰۶

# د غوراصلي اوسېدونکي،

## (ترکان، پښتانه که تاجکان؟)

### ۵برخه

**غور، غرستان، غورستان او غرجستان**

د افغانستان په لرغوني تاريخ کې، د تاريخي جغرافيې پر بنسټ او د ژبپوهنې (تاريخي، تشريحي او پرتليزي) په رڼا کې، ډېرو نومونو له يوې بڼې نه بلې بڼې ته بدلون موندلی دی.
لومړی همدغه د ارياڼا نوم، په اريا، ارين، ارياڼا ويجه، ايريا او نورو بڼو کښل شوې دی ، دارنګه د افغانستان د سيمو او ولايتونو نومونه او په دغه لړ کې د «غور» د نوم بيلابيلې بڼې د ساري په توګه يادوو:
د غور کلمه د پښتو له «غر» سره تړاو لري، چې په سنسکرت کې «ګيري» او په يو شمېر نورو لرغونو متونو کې «ګر» هم کښل شويدي.
د اوسنی «غور» نوم هم په بيلابيلو لاسوندونو کې او لرغونو متونو کې په بيلابيلو بڼو موندلی شو، لکه غرچه، غلچه، غلجه، غرجی، غلجی، غرستان، غورستان، غرجستان، غرشستان، غرج الشار او دېته ورته نور نومونه.
د غور جغرافيه د يادو نومونو په رڼا کې کله پراخه شوې او کله هم له اوسني غور سره په لړو ډېر توپير تر سترګو شويده.
د غور تاريخپوه منهاج سراج جوزجاني، چې د لوی غور اوسېدونکی وو، په طبقات ناصری کې په څرګنده توګه ليکلي دي، چې غرستان د هرات او غزني تر مينځ موقعيت درلود.
يو شمېر څېړونکي د غرستان ځلور خواوې داسې راپېژني:
شمال ته ميمنه او مرو رود، سهل ته غزني او غور پورې تړلې شوې سيمې ته غرستان وايي، لويديځ ته يې هرات او ختيځ پلو پخپله غور، د غرستان جغرافيه په ګوته کوي.
جوزجاني لا ان تر سمرقند پورې سيمې هم د غرستان خاوره ګڼي، د طبقات ناصري له خطی نسخی سربېره د سيفی هيروی د «تاريخنامه هرات» په قلمي نسخه کې، د منهاج السراج غرستان يې، د غرجستان په بڼه کښلی دی.
«ماركوارت» په ايرانشهر کې د «شار»، شير، شاه او شهر نومونه د لرغوني «کشتريه» له ريښي څخه ګڼي، چې په پښتو کې «تورزن=شمشير باز ګڼل کېږي.
د شاران غرستان (شار غرستان) يادونه د غزنويانو د مهال تاريخپوهانو هم کړېده چې مونږ د «يميني تاريخ» ليکوال عتبي، ګرديزي او ابو فضل بيهقي د ساري په توګه يادولی شو.
يو شمېر نورو ليکوالو لکه ياقوت او د حدود العالم ليکوال د «غرستان شارانو» د حکومت پلاز «بشين» ياد کړيدي، چي ارمني جغرافيه پوه «موسی خورنی» د «بژين» په بڼه ليکلی دی.
په ډېرو لرغونو کتابونو لکه اوستا کې هم د«غرستان» په بڼه وو ، چې وروسته يې معربه بڼه خپله کړېده، چې موږ غرجستان او يا غرشتان د يادولو وړ ګڼو.
د اسلام د سپېڅلی دين له خپرېدو وروسته هم د غوريان، غور، غرستان او غورستان نومونه د يو شمېر تاريخپوهانو په ليکنو کې تر سترګو کېږي، چې موږ د بېلګې په توګه د «زمجي اسفزاري» يادښت ته تم کېږو:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

»غوریان چي د حضرت علي (ع) له خوا د اسلام په دین مشرف شول، دوئ افتخار کاوه، چي د «بني امیه« له ظالمانه سیاست نه یې پیروي نه کوله، دوی په دې خبرې هم وياړ کاوه ،چي بني امیه د غور ولایت ته لار ونه مونده.» همدا لامل وو، چي اموي جنګیالیو د غوریانو د تابع کولو لپاره پرلپسې جګړې وکړې، لکه طبري چي د هجري قمري د ۴۷ کال د پېښو په تړاو لیکلي دي:

»په دغه کال کې زیاد بن ابیه، حکم بن العمر والغفاري د خراسان امارت ته واستول او د غورستان په غرنیزو سیمو بریدونه وکړل. غور یې فتح کړ او په زور یې تابع کړل، چي په پای کې ډېره شتمني او غنایم یې له هغونه تر لاسه کړل او دغه برید له مروې او هرات نه تر سره شو.» د ابن اثیر په روایت، اسد بن عبد الله القسري په ۱۰۷ ه ق کال په غرجستان باندې برید وکړ او د هغه هیواد باچا د اسلام سپېڅلی دین ومانه او یو شمېر غوریانو ځانونه په سموڅو کې پټ کړل ...» د دغه تاکلی زمان په شاوخوا کې، یاني د اسلام د سپېڅلی دین له خپریدو وروسته چي د ملک شنسب له مهال سره تړاو لري بیا د سوري بن محمد تر واک پورې دوه کورنی په غور کې نامتو وې، چي یوه د امیر فولاد سوري او بله یې بنجی بن نهاران وو، چي په دغه لړ کې د سوري بن محمد یادونه اړینه ګڼو.

**په غور کې سوري پښتانه**

**سوري بن محمد**

د نړی په لرغوني تاریخ کې د ډېرو هیوادونو اوسیدونکي د شجرو پر بنسټ د دوی هر ټبر په بیلابیلو ځانګو او ښاخونو ویشل شویدي.

که موږ یوازې د سیمې او په ځانګړې ډول د منځنی اسیا او د افغانستان په هیواد کې د «ترک ټبر» وشمېرو، ښایي لسګونو ته ورسیږي او په لویه پیمنه کې ترکان د ۷۲ په شاوخوا کې ځانګې لري، چي په دغه لړ کې سلجوقیانو د لومړي ځل لپاره په یوولسمه (۱۱ ز) زیږدي پیړی کې یوه ستره اسلامي ټولواکمنی په کوچنی اسیا کې جوړه کړه او د «عثماني ترکې» کلمه هم د عثمان د نوم، د ترک ټبر (۱۳۲۶-۱۲۵۹ ز) د مشر نه اخستل شویده.

د پنځلسمې پیړی په پای کې قسطنطنیه، چي د بیزانس امپراتوری پلازمینه وه، د پرلپسې جنګونو له امله د دولت او عثماني ترکانو تر مینځ واقع شول، چي په پای کې سلطان محمد خان فاتح وګرځېد.

دارنګه پښتانه هم لکه د ترکانو په څېر په لسګونو قومونو ویشل شویدي او په دغه لړ کې یو ستر ټبر «سوریان» بللی شو، چي له افغانستانه سربیره یې په هندوستان هم حکومت کړیدی.

موږ د سوري فولاد یادونه وکړه، چي د شنسبیانو د واک او ځواک دب دبه یې وساتله ، دارنګه د دې ټبر یوه بله څانګه چي «د بنجي بن نهاران» پنامه یادیږي، دوئ هم د غور په خاوره کې د یوه حکومت بنسټ کېښود.

د «تاریخ فرشته» په قول سوري د امیر بنجي له اولادې څخه ګڼل کېږي او د صفاري یعقوب لیث معاصر وو.»

«جوزجاني،» هم د دې خبرې پخلی کړیدی او په دې ټکي ټینګار کوي، چي «د غور مملکت د ده په واک کې وو.»

د جوزجاني خبرې ځکه ډېرې مستندې دي، چي نوموړی د غوریانو د مهال یو نامتو تاریخپوه او یو لوستی کس وو، چي د دربار چارې به یې له نږدې څارلې، ځکه دی په غوري دربار کې لوی شوی وو.

قاضي منهاج السراج جوزجاني له غوري دربار نه سربیره په بامیانو فیروز کوه او د غور په نورو سیمو او ښارونو کې هم ګرځېدلی وه او د ډېرو تاریخي پېښو شاهد وو.

ده په طبقات ناصري کې څو ځایه د غوریانو ځانګړې ژبې ته اشاره کړیده، ولي په څرګنده یې د هغې ژبې نوم ندی اخستی، خو دا یوه خبره ښکاره ده، که چېر دغه ژبه پښتو نه وی، نو پارسي به وه او پارسي ژبې خو پخپله پوهیده، نو بیا دېته اړتیا نه وه، چي په طبقات ناصری کې (وګورئ لومړی ټوک ۳۸۳ مخ) د «غوریانو لفظ» یادونه کوله او یا د همدې کتاب په ۴۱۱ مخ کې د غوري علاوالدین په تړاو د «تولک» په فتحه کې د پاچا ژبې ته «وبه زبان ایشان» کلمه کارولي ده او بل ځای د غوریانو ستر نیکه شنسب «آل شنسب او شنسبیان بولي، چي ډېرو څېړونکو دغه کلمه له لرغونو متونو سره په پرتله «شین اسپه» بللي ده. په دې اړه د بیهقي په قول چي د سلطان مسعود د عصر (۴۲۱ ه) خبره ده، دی وایي کله به چي د غزنوي مسعود استازی غور ته روان شو، نو «ترجمان» ته یې اړتیا درلوده.

له دغو څرګندونو نه بریښي، چي د «سوري بن محمد» ژبه پښتو وه او دا چي په طبقات ناصري کې د امیر فولاد یادونه شویده او یا منهاج السراج د هارون الرشید د واک په مهال د غوریانو د کورنی د دوه تنو امیر بنجي او امیر «سیس یادونه کړیده...» ، دا یو بل ثبوت کېدی شي. (۱۷۰ ه کال) دارنګه «زمجی الاسفزاري» هم د «سوري» یادونه کوي او وایي: «چي زمینداور د ګرمسیر له ولایت څخه د «سوري» دارالملک وه او دی د غور د سلاطینو نیکه ګڼل کېده.» د «سوري» د واک مهال له ستونزو ډک وه، چي یوه لویه ستونزه د غوریانو خپل مینځي جګړې وې، ځکه چي تر دغه مهاله د غور هیواد ټولي سیمي د اسلام په سپېڅلي دین مشرفي شوې نه وې. جوزجاني هم د دې خبرې پخلی کړیدی، چي د علیا او سفلی «والشتان» تر مینځ وګړي یې مسلمانان نه ووتل په جګړو اخته ول.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څېر و لولئ

»سوري» بن محمد پداسي وخت کې د غور امير وو، چې يعقوب ليث په ۲۵۱ ه ق د «بست» په امير «صالح بن النصر» وسله وال يرغل وکړ او بيا يې د کابل حکمران «رتبيل» تر بريد لاندې ونيو او د شپږو کالو (۲۵۷ ه ق) په موده کې بست او کابل ونيول او رتبيل يې يرغمل کړ.
يعقوب ليث د پنځو کالو په موده کې زمينداور، د کندهار تکين اباد، رخج، زابلستان، غزنين، ګرديز، باميان يو د بل پسې لاندې کړل.
بيا هم سوري بن محمد يو خپلواک امير وه، چې يعقوب ليث، د دې وسه و نه مونده، چې غور ونيسي.
»ښايي د دې خبرې يو لامل به دا وو، چې يعقوب ليث له خراسان او بغداد سره د يو شمېر ستونزو له کبله د دې فرصت پيدا نکړ، چې په غور بريد وکړي او يا د غور جغرافيوي جوړښت داسي وو چې دی يې له بريده پر شا کړ.» شنسبيانو (امير فولاد شنسبي-امير بنجی د نهاران شنسبي) د خپل واک په مهال خپله سيمه بيزه واکمني ساتلي وه، که څه هم منهاج السراج د امير فولاد شنسبي نه وروسته د دې کورنی د نورو واکمنو يادونه نده کړي حال دا چې سوري فولاد نه وروسته د ده زوی امير کروړواک ته ورسېداو (۱۵۴ ه) د پوشنج (پوشنګ) جګړه کې ومړ او زوی يې امير ناصر واک ته ورسيد . خو د شنسبي څانګي د يوه بل ټبر، امير بنجي د نهاران شنسبي زوی يادونه کوي او دی د غور له اميرانو څخه ګڼي.
دی د «امير سوري» يادونه هم کوي او دا هم وايي، چي له يوه هم مهالي امير د بهرام زوی شيش سره، د هارون الرشيد دربار ته ورغلل، امير بنجي د «قسيم امير المومنين» په لقب د غور امير ونومول شو او امير شيش د غور د پوځونو د اتل په نوم غوره شو.
هغه وخت چې يعقوب ليث واک خپل کړ، لکه دمخه چې هم يادونه وشوه د غور امير د شنسبي ټبر يو تن امير سوري وو.
له سوري بن محمد نه وروسته «محمد سوري» واک ته ورسېد او جوزجاني، دی د غوري ټبر څلورم امير ګڼي . دا چې محمد سوري د غزنوي محمود همهال و او «سوري» د يعقوب ليث معاصر وو، نو نشو ويلی، چې محمد سوري، د سوري زوی وي. ښايي د هغه کورنی سره نږدې اړيکې ولري، يا به يې له لمسيانو څخه يو تن وو او يا خو به يې وراره کيده . !؟
په حدود العالم کې راغلي دي، چې د غور او غرجستان اميران «د څلورمې پېړۍ په پای کې د «ملوک آل فريغون جوزجانان» (۴۰۱ ه) تابع وو.» ولي ابن اثير (۴۰۱ ه) او بيهقي (۴۰۵ ه) په دې اند دي، چې غزنوي سلطان محمود، د هرات حاکم «التونتاش» او د توس د والي «ارسلان» جازب په ملتيا يو ستر لښکر د بست له لارې غور ته ننويست، او سوري جنګيالي هم چې د لس زرو جنګياليو په شاوخوا کې اټکلېدلی شول، له خونړۍ جګړو وروسته «امير محمد سوري» يې (اهنګران) کلا کې کلابند کړ، غزنوي سلطان محمود ته څکه تسليم شو، چې د غور خلکو ته زيان ونه رسيږي.
سلطان دی او زوی يې «شيش بن محمد سوري» غزني ته واستول. امير محمد سوري، چې دمخه يې د لاس په «ګوتمۍ» کې زهر ځای پر ځای کړی وو له خوړلو وروسته غزني ته څېرمه د ګيلان په نوم يوې سيمه کې ومړ.
)وګورئ جرفا د قاني ۳۱۴ مخ(
کله چې غزنوي سلطان محمود په ملتان بريد وکړ، د ملتان لوديان يې هم په بې ديني تورن کړل، لکه څرنګه چې د غور سوريان، چې د ملتان د لوديانو سکني تربوران وه، هم په کفر تورن وکړل.
سلطان محمود د هند تر نيمې وچې پورې خپل څواک ته پراختيا ورکړه، ولې غوريانو خپله سيمه بيزه واکمنۍ خوندي کړې وه، ده ته د غوريانو دغه څواکمنتيا د څغم وړ نه وه، نو څکه خو يې درباريانود خلکو په مينځ کې ډېدوره ګډه کړه، چې د غور اميران لار وهونکي کاپران دي.
ابن اثير، فضل الله همداني او «جرفا د قاني او نورو هم د دې خبرې پخلی کړيدی. «هغه څوک چې په غور باندي (۴۰۱ ه ق) د سلطان محمود بريد توجيه کوی، هغوئ په غلا وو او ان په کفر تور نوي.» دزهرو دخوړلوروايت خلاف ، د «مير خواند» د روايت له مخي محمد سوري خپل زوی په ډېرې اوښيارۍ له زندان نه باسي، چې په غور کې پاڅون وکړي. ولی کله چې سلطان محمود خبرېږي محمد سوري وژني. (مير خواند ۴ ټوک ۱۰۳-۱۰۲ مخونه)
د اهنګرانو جګړه د محمد سوري په ماتي پايته ورسېده او د «اسعد سوري» د محمد سوري زوی يوه پېنتو بوللله د لرغوني پښتانه او د تاريخ سوري په حواله چې محمد هوتک په پټه خزانه کې راوړي ده، د محمد سوري په وژنه کښلې ده او په دې وياړي، چې خپل ځان يې د خپلې کورنی د پت او عزت لپاره قرباني کړ.
د محمد سوري له وژلو وروسته سلطان محمود، څکه د هغه زوی ابو علي محمد بن سوري ته د غور حکومتي چارې وروسپارلې، چې بل څوک په غور د حکومت کولو جوګه نه وو.
قاضي منهاج السراج جوزجاني هم دامني، چې ابو علي د خپل پلار د تګلارې او سياست خلاف له سلطان محمود سره خپلې اړيکې دوستانه کړي وې.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په څير و لولئ

جوزجاني په طبقات ناصري کې په دې تینګار کړیدي، چې ابو علي د غوریان په مینځ کې د یوه محبوب مشر په توګه ستایل کېده، ځکه چې په ټول غور کې ناامني له مینځه تللې وه او خلکو د غور په بیا رغاونه کې هلې ځلې کولې.
د بیهقی د روایت له مخی (بیهقی ۱۱۴ مخ) سلطان محمود سره د دې چې په غور یې بریدونه وکړل، خو په بشپړه توګه یې لاندې نکړ او دغه ویاړ د امیر مسعود په برخه شو، ځکه چې دی د پلار له لوره د خراسان والي ټاکل شوي وو او په ۴۱۱ ه ق په غور برید وکړ او ډېرې کلاګانې لاندې کړې، چې مورږ «رزان»، جروس، برتر او «تور» د ساري په توګه یادولی شو.
د «همو» د ځرګندوني بر بنسټ (۱۲۰ مخ) ډېر غوریان یې ووژل او ډېر شته یې تر لاسه کړل.
دلته یوه خبره د پام وړ ده، چې د مسعود او ابو علي تر مېنځ اړیکې دوستانه وې او دا چې یادې سیمې تر برید لاندې نیول شویدي، ښایي په دغو سیمو د هغه واک نه وه او د نورو سیمه ییزو واکمنو له خوا به اداره کېدی.
ابو علي د خپل وراره عباس بن شیث له خوا له واکه ګوښه کیږي او په ځای یې دی واک ته رسیږي.
په ټوله کې دا یوازې غور نه وه، چې سیمه ییزه واکمنی یې خپله کړې وه. بلکې د اسلام د سپېڅلي دین د خپریدو پر مهال د افغانستان په یو شمېر نورو سیمو کې هم سیمه ییزې واکمنې رامینځته شوې لکه کابلشاهان او د زابلستان رتبیلان، د زمینداور سیمه ییزه واکمن، د بامیانو شیران او د غرجستان شاران او په دغه لړ کې «ال فریغون» د بېلګې په توګه یادولی شو، چې په افغانستان کې د یوه سیمه ییزه حکومت بنسټ کېښود.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ